محمد عارف رسولي ۲۰۱۶/۰۹/۰۱

# ملتونه، ستر لیدلوري، د مثبت بدلون تنده

## سریزه:

دا مقاله په دې بحث کوي چې په ملتونو کې څنګه د مثبت بدلون لپاره شرایط او تنده راپیداکیږي. د ګډو سترو ارمانونو ټاکل او ورته کار کول د هغوی په یووالي، وېښتیا او پرمختګ کې څه اغیزه لري؟ همدارنګه، په لیکنه کې به د شته ننګونو او فرصتونو په پیژندنه، اهمیت او د دې ټولو په تړاو رڼا واچول شي.

## د افغانستان اوسنی حالت:

افغانستان اوس یو بیوزله او په نورو متکي ملک دی. دولت او نظام مو ماتیدونکی دی. د ماتیدونکی کلمه هغو ملکونو ته کاریږي چې یو له پخوا بیوزله و، او بیا اوږدې شخړې او جګړې وربانديې راغلي، نظام، ملي او دولتي نهادونه، ملي صنایع، د قانون حاکمیت، ښوونیز سیستم، ملي اقتصاد، ملي ارزښتونه، ملي وياړنې، ملي کلتور، ملي اردو او نور سیستمونه يې له منځه تللي وي. هرڅومره چې دا جګړه اوږدیږي په همغه کچه د نظام ماتیدونکی اړخ زیاتیږي. د هرې ورځې په تیریدو سره د ټولنې د یو شمیر نورو خلکو مغزونه، کلتور او ارزښتونه سم کار پریږدي او په قوم پرستۍ، غدر او ټګۍ کې وردننه کیږي. اداري، سیاسي، او اخلاقي فساد سره له اقتصادي مافیايي نظام راج چلوي. یو شمیر کسان چې د قدرت په ګدۍ ناست وي ځان ترقانون پورته ګڼي او په هیڅ چوکاټ کې نه جوړیږي. عام ولس، وتلي روحاني شخصیتونه، روڼ اندي، رښتیني مشران بې وسه وي او ځوک يې خبره نه مني. ځینو کړیو ته ښه موکه په لاس ورشي ترڅو ملت او دولت تر خوړ ګوته ونیسي او خپلې ګروهي ګټي وربانديې ومني. دوی ته ملي ګټي او د هیواد برخلیک کوم ارزښت نه لري او یوازې د خپلو ګټو او تسلط په فکر کې وي. عام ولس ویشل شوی وي، زړه سواندې مشران شته وي خو هغوی د هیواد د سالمیت او ملي حاکمیت نازکه شیشه په غیږ کې نیولې وي او له احتیاطه کار اخلي.
زموږ د ملک اوس کټ مټ همدا حال دی. د ځینو بهرنیو او سیمه ییزو دولتونو لخوا لاسوهنه او بربنډ توهین خپل وروستي حد ته رسیدلی. هغه بله ورځ په ټولنیزو رسنیو کې ټولو ولیدل چې زموږ د هیواد د بهرنیو چارو وزیر له کوم ایراني چارواکي سره په تهران کې ناست دی په داسې حال کې چې تر شا يې یوازې د ایران بیرغ ښکاري. داکار د ټولو ډیپلوماتیکو پروتوکولونو خلاف دی. یو خو خپله زموږ د وزیر په هکله زیات سوالونه راپیدا کیږي او بله دا چې، ایران دا پیام په ډاګه کوي چې افغانانو تاسو زموږ سیالان نه یاست. یو څوک ویلای شي چې څنګه يې سیال کیدای شو چې زموږ خارجه وزیر په داسې یو توهین راضي شي.
خو د مغرورو کسانو عادت وي، ستا تاریخ، عظمت، افتخارات او هویت پټوي او هغه هم چې له دوی سره د مقابلو په هکله وي. ایرانیانو د میرویس نیکه، شاه اشرف او احمد شاه بابا کارنامې نه دی هیرې، دوی ته له ګورګین او نورو سره زموږ د نیکونو چلند ښه مالوم دی، خو ورڅخه سترګې پټوي. هغوی ښه خبر دي چې د دوي د چارواکو ناموسونه چې د خپلو حریفانو تر تعرض لاندې وو، ابدالي په عزت کې وساتل. خو دوی زموږ اوسنی حالت موږ ته ځلوي او مزدوران يې هم دلته په افغانستان کې موږ د هغوی په تمدني ساحه کې بولي.
له بلې خوا هم د پنجاب د لیونیو نظامیانو تنده زموږ د ملک په ورانولو او وینو څښلو نه ماتیږي. هره ورځ یوه نوې دسیسه کوي او اړم دي ترهغو خپلو چلوټو ته دوام ورکړي ترڅو د هغوی د ستراتیژیک عمق ارمان نه وي پوره شوی. خو یقیني ده چې انشا الله تعالی دا ارمان به دوی ټول ګور ته یوسي. دوی د خپل لیونتوب له مخې نهویني چې ولې خپل ګاونډی او مسلمان هیواد يې اړ کړ چې د دوی دښمن ته لاس ورکړي.
په اوسني وخت کې زموږ هیواد د دوو لارو پر سر ولاړ دی. موږ باید انتخاب وکړو چې په کومه لاره ځو. د هیواد ورانولو، شخړو او خدای مکړه د سقوط لاره او که د نجات لاره خپلوو. که همت وکړو هغه متل به رښتیا کړو چې وايي: په کومه ویاله کې چې اوبه تیرې وي بیا هم یکې راګرزیدلای شي. خو اړینه ده چې، خپلو مسوولیتونو ته ځیر شو. د نورو وینو ملتونو په څیر د خپل تاریخ په دې حساسه مرحله کې باید له ځانه یو څو ستراتیژیکي پوښتنې وکړو.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولئ

ايادا حالت راته د منلو دی؟ ايا دوام يې د کوم چا په ګټه دی؟ که د منلو نه دی او هيڅ چا ته ګټه هم نه لري، نو څه کول په کاردي؟ نورو ملتونو په ورته حالاتو کې څنګه ځانته نجات ورکړی دی او کوم کړه يې د موږ لپاره درس کيدی شي؟ څنګه له دې حالت څخه راووزو؟ داسوالونه زموږ په هر کنفرانس، هر سيمينار، هره هجره، هر مجلس او هر بنډار کې بايد ښه تحليل او شاربل شي. د مقالو ليکلو، شعرونو ويلو، هنري اثارو، فلمونو جوړولو او نورو ټولو ورته کارونو د اجندا په سرکې همدا خبره اړينه ده.
دلته زه يوه داسې لاره وړانديز کوم چې نړيوالو کارپوهانو ورته وده ورکړې او زياتو ملکونو او مشرانو يې د خپلو ملکونو، ملي او دولتي ادارو او انفرادي کسانو يې ورڅخه ګټه اخيستی ده. دا لاره زموږ د ملت لپاره د ستر ګډ ملي ليدلوري، لوړو ارمانونو ټاکل، او په ګډه ورته کار کول دي.

## ملي ګډ ليدلوری او ګټې يې:

له پورته خواشينوونکي حالت څخه د خپل ملت د ايستلو لاره داده چې ملت په يوه ستر ملي ليدلوري (vision) او ارمانونو راټول کړو. زموږ دولت بايد د هيواد له وتلو رينتينو کارپوهانو او مشرانو سره د خپل ملت لپاره لوړ، روښانه او ګډ ملي ليدلوری او ملي ايديالونه چې، د هر با ايمانه او رينتينی افغان د زړه له کومی غوښتنه وي، په مشارکتي ډول وټاکي. دا د کنفرانسونو او سيمينارونو، ليکنو، مشعارو، او ګرديو ميزونو له لارې ښه کيدای شي او د نړیٔ زيات ملکونه له دې لارې کار اخلي. په دې پروسه او بهير کې دولت بايد دا ملي ارمانونه ښه خلکو ته روښانه کړي ترڅو ټول خلک ځان په کې وګوري. دا به په ملت کې مثبت فکر، مثبتې هيلې، د سترو کارونو د سرته رسولو لپاره د خولو تويولو او قربانیٔ ورکولو ولولې او په پای کې يوه نوښتګره انرژي رامنځته کړي.
په ملت کې مشران يوازې لوړپوړي دولتي چارواکي نه دي. ټول هغه کسان چې په خپلو خلکو کې اغيزه او رسوخ لري، ليکوالان، ژورنالستان، مدني فعالان، روحاني شخصيتونه، د پوهنتون استادان، مسلکي او ادبي انجمنونه او بهيرونه او ټول هغه افغانان چې هيوادنيو ګټو ته ژمن وي په دې ډله کې راځي. ټول بايد ځان مسوول وبولي او دملي ليدلوري په روښانولو او ملي ګټو ته د ژمنتيا په کار کې نه ستړې کيدونکې ونډه واخلي.
يو بد کلتور او ذهنيت چې په موږ کې عام شوی دی دادی چې، ځينې کسان به له پوهنتونه فارغ وي، ځان به مدني فعال بولي، په کوم ګوند، ډله او يا ټولنه کې به غړيتوب لري خو د بحث په وخت ټوله پړه په نورو اچوي او دا نه وايي چې زه خو هم مسووليت لرم. زه نه وايم چې نيوکې د ځوک نه کوي، خو نيوکه کوونکې خو بايد خپله هم مثبت کار او هڅې ولري.
د لوړ ارمان خبره يوازې په ملي کچه نه ده مطرح، بلکه دا زموږ د ملي ادارو، غير دولتي موسسو، د سکتور خصوصي سازمانونو، سياسي ګوندونو او ان د هر بنيادم لپاره اړينه ده. بايد د ليد لوري لرل او شته واقعيتونو ته تل اهميت ورکړو، په ملي کچه، په وزارتونو، پوهنتونونو، مدني ټولنو، د ځوانانو خوځښتونو، قومي شوراګانو، شخصي کمپنيو او ترټولو مهم په شخصي ژوند کې دا کار بايد وکړو. بايد دا په علمي توګه په ټولنيز شعور او ملي پرمختيايي پروسه کې شامل کړو. زموږ دا ټول نهادونه بايد هم ملي ليد لوري ته ژمن وي او هم يې بايد د خپل ځان، او خپلې ادارې لپاه ولري او ورته کار وکړي.
ټولنو ته انګيزه او لوری ورکول مهم کار دی. خو ځينې تش په نامه مشران په غلطه لاره دا کار کوي. هغوي چې مثبت ارمان نه لري، سم لوری خلکو ته نه شي ورکولای، نو کرکو او تعصباتو ته لمن وهي، اوبه خړوي، کبان نيسي او په ځان پسې ډلګۍ راګاږي. دا کار اسانه دی خو هيڅا ته اوږدمهاله ښې پايلې نه لري. خو رينتيني مشران بيا هڅه کوي چې خپل ملت په سترو ګډو ايديالونو راټول او يو موټی کړی او د بريا په لور يې رهبري کړي. دا يو څه اوږد مزل دی خو پايلې يې سمې دي.
د ملي ليد لوري او ګډو ملي ارمانونو رامنځته او وده ورکولو بله ګټه به داوي چې، د منفي نظرياتو لرونکي، مفسدين، متعصبين او د کرکو خپروونکي خلک او ډلګۍ به د هغو په مرسته ډېر کښته په ډېرانونو او خس او خاشاکو کې خپل ځان او خپلې موخې وګوري. د هغوی مورال به خورا کمزوری شي او په ملت کې به لانور هم ګوښه پاته شي. داسې خلک ټيټه ځاني اجندا لري، د افغانستان شريف او ورونه قومونه سره زړه بدي کوي، ملي وياړمنو شعايرو ته سپکاوی کوي، اوبه خړوي او کبان نيسي، خو ځان د خلکو مدافع او اتل ښيي. خو کله چې ملت ته ستر او لوړ ملي اهداف ښکاره او يقيني شي، داسې ټول خلک به ډېر کښته په ډېران او خاورو خځلوکې پاته شي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاریٔ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

همدارنګه، به زموږ یو شمیر هغو خلکو ته ښه درس شي چي کیدای شي بد نیت ونه لري خو یوازېنۍ اجندا او ټوله پاملرنه یي له پیښو او ځینو سیاستونو سره عکس العمل ښودل دي. په ملي، سیاسي او ټولنیزو مسئلو کي کومه سمه لوړه او فعاله اجندا یا نه لري او یا یي سمه نه شي طرح او وړاندې کولای.

## د یوه ښه لید لوري مثال او ورته رسیدل:

دوه لسیزې وروسته افغانستان د نړیوال تجارت، ترانزیت، د انرژۍ د انتقال او اقتصاد یو مرکز او یوه څلور لاره وي، قانون حاکم او په ټولو یو ډول پلي کیږي، ښوونیز نظام او علمی مرکزونه مو په نړۍ کي معتبر ځای لري، انساني او ټولنیزه پانګه مو د پرختګ لویه سرچینه وي، خصوصي سکتور مو د اقتصادي وده رهبري کوي، له خپلو طبیعی زیرمو د خپلو ټولو خلکو لپاره پایداره ګټه اخلو، هیواد مو زرغون او چاپیریال مو خوندي وي، ملي کتلور مو غوړېدلی، ملت مو هوسا، خپلواک، پرمختللی، یو موټی، سوله ییز او د نړۍ د شتمنو هیوادونو په کتار کي شي.
که پورته او یا ورته لید لوري ته د یوه منظم دولتی پلان له مخي کار پیل شي، زیات بحثونه وربانديې وشي، اړین بدلون پکي راولو، لنډ مهاله او اوږد مهاله موخي، پرګرامونه او ستراتیژیک پلانونه په مشارکتي ډول ورته جوړ او په پلي کولو یي پیل وکړو. نو زموږ ملت به ځان هلته وګوري او خوشالي او په ځان اعتماد به یي څو ځلي زیاته شي.
باید ووایو چي په نړۍ کي نن باب ده چي، انفرادی کسان، کاروباري خلک، سازمانونه، دولتي او ملي نهادونه، نادولتی موسسي او په ملي کچه ټول لید لوری(Vision) ، لنډ مهاله او اوږمهاله موخي ځانته ټاکي. د هري کچي لپاره ستراتیژیک پلانونه او کړنلارې جوړ او پلي کوي. نو موږ هم باید په هره کچه دا کار وکړو ترڅو ریښتیني پرمختګ وکړو.
څوک به وواېي چي موږ او دا حالت. هو! په وروسته پاته ټولنو اوملتونو کي ستونزه داوي چي خلک په خپلو شته فرصتونو نه پوهیږي او یا سر نه وربانديې خلاصوي. هغوی یوازې خپلو ننګونو او بې وسیو ته ګوري. دا همدا نظر او د ناهیلیو قوت د هغوی د وروسته پاته والي یو ستر او بنسټیز لامل دی. زموږ په هیواد کي د اوسنیو شته فرصتونو څخه یو هم د یوه خوځنده ځوان نسل راپورته کیدل دي چي له وطن او ملي مسئلو سره سخته مینه لري، خو دا پالل، تربیه کول، سوق کول او رهبري غواړي او هیله ده چي موږ دا کار پیل کړو. نور فرصتونه زموږ د ملک ستراتیژیک موقعیت، طبیعي زیرمي او توریالي او با استعداده خلک او نور زموږ غوره فرصتونه دي.

## اوسنیو واقعیتونو ته نظر هم مهم دی:

موږ پوهیږو چي یوازې د ارمانونو په هکله خبرې کول لکه خوب لیدل داسي دي او ډېره ګټه نه لري. اړینه ده ټل ستر لید لوری او ارمانونه د شته اوسنیو واقعیتونو، ننګونو او شته فرصتونو سره یو ځای په نظر کي وساتو او ټل یي سره پرتله کړو. همدارنګه، اوسني واقعیتونه، شته ننګوني او
فرصتونه باید خلکو ته سم تشریح شي ترڅو له هغو یو روښانه تصویر ورته څرګند شي. که مو دا کار سم وکړ نو په ملت کي یوه ستره نوښتګره او خلاقه انرژي رامنځته کیږي او د سترو سترو کارونو توان مومي.
دا هم جوته ده چي ملي ګټو، د خاورې تمامیت او ملي ګډو ارمانونو ته تهدید، د پردو تیری او بې شرمانه لاسوهنه ملي او ټولنیز شعور او د مثبت بدلون تنده زیاتوي. که له دې فرصت څخه سمه ګټه واخیستل شي، نو ملت بسیج کولای شي، په ملت کي ستره انرژي رامنځته کیږي او خپله لاره ایستلای شي. دا هم جوته ده چي ملي سترو ګټو ته تهدید، د پردو تیری او بې شرمانه لاسوهنه ملي او ټولنیز شعور او د بدلون انګیزه زیاتوي او که له دې فرصت څخه سمه ګټه واخیستل شي، نو ملت بسیج او یو موټی او د پردو د تیري مخه نیولای شي.

## اړیني کړنلارې او تګلارې:

اوږدو شخړو، بیوزلیو، ټولنیزو ناخوالو او ناهیلیو زموږ په ټولنه کي زیاتي ټولنیزې عقدې راټوکولي چي ورته لاره موندل عقلاني چلند، تدبیر، صبر او زغم غواړي. په دې کي به د بهرنیو کړیو لاس وي خو اصلي ستونزه داخلي ده.
د نلسن مندلا په قول که موږ یوازې ځان خرڅ نه کړو هر څه به سم وي.
دا ستونزې په بې ځایه، احساساتي او تونډو انقلابي بیانونو نه سمیږي او لا خرابیږي. ځیني حساس اوملي ارزښتونه لکه ملي هویت، ملي یووالی، ملي او دیني شعایر، او نور چي دملت او ټولني دښمنان په لوی لاس غواړي په هغو باندې بحث تر زیاتو کم عقلو کسانو او ډېرو ټیټو معیارونو پوري راکښته کړي، تونډ موافق او مخالف نظرونه وربانديې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

ورکړل شي، او عقده من کسان لا نور سپين سترګي شي. په دي توګه، د ملت او ټولني کمزوره ټکي رابرسيره او په خورا حساسو ملي موضوعاتو کي د حيا او احتياط پرده ليرې شي.
موږ بايد د خپلو ملي ګټو سرې کرښي رامنځته او ښې روښانه کړو، وربانديِ عامه پوهاوی زيات او هغه عقلاني کړنلاره هم په فعالانه توګه سمه روښانه کړو چي د ملي نواميسو له دې سرو کرښو څخه د تيريدونکو سره بايد څه وکړو. دلته بيا هم بايد له زغم، تدبير او عقلانيت څخه کار واخيستل شي او ستراتيژيک او نه احساساتي کار وشي.
که عامو افغانانو ته د سترو ايډيالونو د درک او لمس کولو موکه ورکړه شي، ښه ورته تشريح او ټولنيز شعور ته يې لوړ شي، په پوره يقين سره به ورته تعهد ولري او ملاتړ به يې وکړي. خو هغه افغانان چي دې کار ته ژمن دي، وربانديِ فکر او کار کوي اړ دي چي اخلاقي لوړوالی، لوړ تمدني او انساني ارزښتونه په فعالانه توګه له ځانه وښيي.
هغه خلک چي منفي فکرونه لري، راتلونکي ته يې هيلي نه وي، له کينو او کرکو ډک وي دا کار نه شي کولای. که چا پياز خوړلی وي، له خولي يې د خام پياز بد بوی راځي، نو نورو خلکو ته به څنګه د خام پياز نه خوړلو نصيحت کوي.
که په هيواد، خپلو ديني او ملي نواميسو مينو افغانانو لوړ، مثبت او انسانی ليدلوري خپل کړ، کرکجن، متعصب او ځان غوښتونکي عناصر به ډېر ژر تيټ په خاورو او ځځلو کي له خپل ملت څخه ګوښه پريږدي. خو که وطني ګټو ته ژمن کسان له ملي ګټو د دفاع په سنګر کي له هر تيټ او خرڅ شوي کس سره په عکس العملي توګه لګيا وي، د همغه ټيټي کچي ته به راکښته کيږی او هغوی ته به شخصيت ورکوي. هوښيار، رښتيني او په وطن مين افغانان اړ دي ځان غوښتونکي پريږدي پخپلو کينو کي وسوځي. پريږدی چي، هغوی دخپل جهالت په ډېر کښته کندو کي لګيا وي.
زموږ ژمن کدرونه بايد ملت ته د يووالي او لوړو ايډيالونو د رښتيني سبا هيلي، سياسي شعور، له نورو ملتونو سره د سيال کيدلو اصلي لاري چاري وښيي او نجات ورکړي.
دا يو حقيقت دی چي زموږ د ستونزو اصلي لاملونه داخلي دي. ټولنه لکه د انسان بدن داسي ده، کله چي کمزوري شي، راز راز مکروبونه وربانديِ حمله کوي او ناروغ شي. که غواړو د پردو له ظلمونو او لاس وهنو خلاص شو، لمړی بايد خپل ځان اصلاح او بيا خپله ټولنه او ملت وروزو. له حقايقو، خپلو تيروتنو او کمښتونو څخه بايد غافله نه شو، ورڅخه ځان خبراو زده کړه وکړو. دا يو منل شوی قانون دی چي کله چېري تشه رامنځته شي، نو ډکول غواړي، خو زيات وختونه شر غوښتونکي دا تشه ډکوي. هره کورنۍ چي بيوزله، احتياج او نالوستي پاته شوه، نوخامخا به يې ځوک د ځان د ګټو لپاره کاروي. د ټولنو او ملتونو کيسه هم همداسي ده. انسان او ټولنه اشتباه کوي خو هوښيار خلک هغه دي چي خپلو کمښتونو ته ځير شي او ځان سم کړي. زموږ وروسته پاته والي يو ښه داده چي هيڅوک د خپلو تيروتنو مسووليت نه مني. په هغه متل ښه تطبيق کيږي چي وايي: قاضي ملامتولم خو زه نه ملاتيدم.
دا هم جوته ده چي ملي ګټو، د خاوري تماميت، ملي ګډو ارمانونو ته تهديد، د پردو تيری او بي شرمانه لاسوهنه ملي او ټولنيز شعور او د مثبت بدلو تنده زياتوي. دا ننګوني موږ بايد په فرصت واړوو، ورڅخه سمه ګټه واخلو، ترڅو ملت وربانديِ بسيج کړو، تر څو په ملت کي ستره انرژي رامنځته کړو او ملت خپله لاره ايستلای شي.

## د ځاني او ملي ارمانونو د لاسته راوړلو د ډيسيپلين ځيني اصول:

(۱) ليدلوری به لوړ او د زړه له کومي ملي غوښتني وي،
(۲) د اوسني واقعيت به هم يو روښانه تصوير هروخت په ذهن کي لرو او له خپل ليدلوري سره به يې پرتله کوو،
(۳) حقيقتونو ته به ژمن وو، ځان به نه دوکه کوو، خپل کمښتونه به منو،
(۴) دا به کومه پيښه نه وي، بلکه يوه تلپاته او پای نه لرونکي پروسه به وي،
(۵) دابه د چا په اختيار کي نه وی بلکه تل به ورپسي هڅه کيږي، لکه پرمختيا پخپله يوه نه خلاصيدونکي پروسه ده او هيڅ وخت هيڅ پرمختللي ټولنه نه شي ويلای چي هغوی نور د پرمختيايي پروسي لپاره ارتيا نه لري،
(۶) د ليدلوري او اوسني واقعيت پرتله په تل روانه ساتو ترڅونوښتګر فشار هروخت موجود وي، (۷) دا ډيسيپلين هيڅ کله له اوسني واقعيت څخه کرکه نه لري، پوهيږی
چي که ننګوني شته خو زيات فرصتونه هم شته، نوښتګر فشار او خلاقه انرژي مورته رابښيي چي د ننګونو مقابله وکړو او له فرصتونو ګټه پورته کړو.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ